ژباړه: دوکتور محمد اکبر یوسفی ۲۰۱۲/۰۹/۰۸

# افغانستان د خپل خپلواکی پراختیا په لمړی پړاو کښی!
# (۱۹۱۹ ــ ۱۹۲۹)

ځیرونکی: «ویکتور کورگون» (Viktor Korgun)
د تاریخی علومو کاندید.

## دریمه برخه

**یادونه**: د افغانستان د خپلواکی د دری نویم کال په ورځو کښی د ډیرو افغانی لیکوالانو له خوا څخه لیکنی وسوی، او د لمانځنی په ترڅ کښی داسی یادونی هم لیدل سوی، چه ګواکی د پوهی او په تیره بیا د تاریخ په برخه کښی هم، یو ډول «انحصار» او یا د پخوانی پاچاهی نظامونو په شان، «میراثی» حقوق وجود ولری. د استقلال لمانځنه، نه د یوه سړی او یا د یوه ګروپ وظیفه ده، بلکه د بشریت او په تیره بیا د دی منطقی بریالیتوب وو، چه د اجتماعی ودی په لړ کښی، د زاړه استعمار کړی ماته سوه، **او افغانان په لمړی صف کښی دریدلی وه**، او د خپلو نورو دوستانو، د حمایت څخه هم بهرمند وه. ځینی حتی داسی مفاهیم یاد کړی، لکه چه د لمړی تولید کوم مخترع په ډول، د لمړی حقوق خاوند وی او دهغو کلماتو د استعمال د نورو له خوا څخه باید، د دوی څخه د اجازی اخستل ضرور وی. د تعجب وړ ده چه حتی ځینی لیکوالان، په دولتونو کښی د «سری اسنادو» په مفهوم ندی پوهیدلی. جالبه خو داده، چه ځینی د یوه «امپریالیستی» لیکوال د اسنادو څخه «نقل قول» مجاز نه بولی، اما که چیری د هغه قدرت د «سری» سند څخه (معلومه نده، چه «سری» اسناد یې به څنګه تر لاسه کړی وی)، پخپله «اقتباس» کړی وی نو د ځان د پاره لوی افتخار بولی، او داسی لیکنو ته یی باید، هرڅوک تسلیم سی. د یوه سند، د «سریت» مفهوم په څشی کی ده، چه علنی سوی وی. د داسی «تاریخ پوهان» او «سند» پیژندونکو څخه می دی خدای وساتی.

په اوسنی دنیا کښی ډیری آزادی ترلاسه سوی، او دپوهی د زدکړی پراخ امکانات موجود دی. مخ کښی تر دی چه کوم وخت، د نورو وطنوالو په شان، خپل ځینی څیړنی، ګران وطنوال او لوستونکو ته وړاندی کړم، نو په ډاګه وایم چه د مسلکی تاریخ لیکونکو او د حقوقو په برخه کښی د صادق او د عدالت د پلویانو، په پر مخ تللی هیوادونو کښی، چیری چه علمی څیړنی او د حقوقی نظام نفوذ او قدرت قوی دی، نو د دوی موقف هم یو بل ته سره ډیر نږدیوالی لری، دا پدی معنی چه د داسی «مُدرن» هیواد، قاضی د قانون پر بنسټ عادلانه قضاوت کوی، او تاریخ لیکونکی هم، هغه څه لیکی، چه وینی او حقیقت ته نږدی، دمعتبرو اسنادو پر اساس، قضاوت کوی، هیڅکله ښه ته بد نه وایی او بد ته هم ښه نه وایی. او همدا رنګه متمایل ندی، چه د یوی مرحلی په باب د حقیقت څخه مغایر کیفیت و لیکی. هر څوک حق لری چه د خپلی ټولنی، پر افتخاراتو باندی و نازیږی. اما دا شهامت هم باید ولری چه هم د ځان او یا د هر با عزت شخصیت د کړنو پر مثبت او منفی اړخونو باندی عادلانه و ږغیږدای سی. انسان او دهغه ژوند، باید د تل د پاره په ټولنیز ژوند کښی د یوه مرکزی موضوع په ډول تر پاملرنی لاندی وی.

د بلی خوا، تر څه حده پوری چه می د پوهانو څخه اوریدلی، په علمی او تحقیقاتی څیړنوکښی د یوه محقق حق دی، چه د چا او یا د کومو منابعو څخه «نقل قول» کوی. دا هم مقید ندی، چه د نظر خاوند باید څوک وی، د کوم نظام، د کوم نژاد، د کوم مذهب او یا د کومی قاری څخه وی. د نظر خاوند که سپین وی، که تور وی او یا که ژیړ، فقط انسان وی. نو هر څوک باید زده کړی چه د انسان نظر تر مطالعی او تحلیل لاندی ونیولای سی، نه شخص. په بل عبارت، سړی لزوماً باید توجه وکړی، چه پر کومی موضوع باندی خبری کوی او د کوم علمی ذخیری خاوند دی او یا تسلط پکښی لری. مهمه دا ده چه، څه مطلب مطرح کیږی. لنډه دا چه، د یوی نظریی رد یا تأیید اصلاً باید، پر موضوع باندی ولاړ وی نه پر افرادو باندی. د اوسنی ځینی لیکنی او ادعاګانی، دی ته و هڅولم چه که ممکن وی ځینی تاریخی منابعو پسی وګورم. د پلټنی په ترڅ کي می د یوه تاریخپوه، څیړل سوی اثر و موند. دا موندل سوی اثر د «جرمنی» یا «آلمانی» په ژبه هم چاپ سوی چه زما لاس ته رسیدلی. سمدلاسه می تصمیم و نیو چه د همدی ژبی څخه، د خپل توان په کچه خپل ګرانو وطنوالو ته یی ژباړه وړاندی کوم.


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

« په کلی ډول د امان الله مأموریت («میسیون» ډیر ګټور وو. د افغانستان اعتبار او حیثیت ته د نړی په کچه لوړوالی ور و بخښله. ځوان افغانان، یو ځل بیا پر خپل تصمیم باندی، چه خپل مستقل او خپلواک باندنی سیاست کړن لاری ته به ادامه ورکوی، تأکید وکړل، او د افغان او شوروی د دوستی اړیکی نوی د تحرک قوت یا «امپلس» ولید.

د پاچا سفر د ځوان افغانانو د ریفرم په پروګرام کښی د یوه مهم غړی په توګه ځای ونیو. دوی وپوهیدل، چه د خارجی سیاست په ډګر کښی، هیڅ یو ثابت بنسټه اقتصادی او ټولنیزبدلونونه ، بیله یوی قوی موقف څخه، جوړولای نسی. برسیره پر دی امان الله د سفر په ترڅ کښی، په ډیرو هیوادو کښی د لمړی پراو د «ریفرم»، د نا کافی مؤثریت نتیجه واخستله، او د یوه بنسټیز تغییرضرورت باندی، په تیره بیا چه باید د ټولنیز برخه کښی تطبیق سی، معتقد وګرځید.

د ۱۹۲۸م کال په لویه جرګه کښی چه د أګست په ۲۸ نیټه جوړه سوه، پاچا د خپل سفر په باب یو راپور او د یوی نوی «ریفرم» طرح وړاندی کړه. همدا رنګه لکه د ۱۹۱۹ – ۱۹۲۳ په شان، د قانون طرح لویی جرګی ته، چه په لمړی قدم کښی د «فیودالی» دستګاه پر ضد، او اسلامی «نورمونو» په باب، چه په هیواد کښی د سرمایداری انکشاف پر لاری د خنډ سبب ګرځید ، وړاندی سول. د لویو مځکو خاوندان او د قومونو «ارستوکراسی» څخه – یعنی د زاړه فیودالی شاه طلبه، د رژیم پلویان – ډیر امتیازونه (القاب او نښانونه او داسی نور) تر لاسه کړل.

سربیره پر دی، حکومت هڅه کوله، چه د ارتجاعی روحانیت سیاسی نفوذ ضعیف کړی. ځکه دوی د همدی «ریفرم» د خطرناکترینو مخالفینو څخه شمیرل کیدل. ملایان د خلګو د نا پوهی او بی خبری څخه کار اخیستل. او امان الله یی د اسلام د عنعناتو د مخالف په توګه متهم بلل. په لویه جرګه کښی د ارتجاعی روحانیت پرضد، فیصلی په تصویب و رسیدلی، چه پکښی، د ملایانو، پوهانو او ښوونکو د اضافی تعلیم، ضرورت شامل وه.

د امان الله حکومت غوښتل، چه لمړی ددی تصمیم د لاری، د بی تعلیمو ملایانو څخه د ملایی دندی د پر مخ بیولو صلاحیتونه واخلی او تعلیم لرونکی ملایان یی پر ځای و ټاکی، چه د «ریفرم» مفکوری په خلګو کښی تبلیغ کړی. او له بلی خوا، روحانیت تر کنترول لاندی راولی او ددوی نفوذ په عامه اذهان او عامه افکارو کښی ضعیف کړی. برسیره پر ټولو، د دنیاوی حقوقی تأسیساتو پر جوړولو باندی هم تصویبونه و سوه، چه پد ډول د روحانیت صلاحیتونه په قضایی برخو کښی محدود کړل. پدی ډول امان الله هیڅکله د اسلام ضد عمل نه وو کړی. لکه څنګه چه ویل، دا تصامیم د ارتجاعی روحانیت پر ضد وه، تر څو چه «پاک او سوچه اسلام بیرته پر ځای و دروی».

د شدید مخالفت سره د حکومت هغه هڅی مخامخ سوی، کوم چه غوښتل د ازدواج او د فامیل جوړیدو د قانون په باب بدلونونه راولی. پاچا وړاندیز وکړ، چه د ازدواج اقل عمر د نارینه د پاره، ۲۲ کلن او د ښځو د پاره ۱۸ کلن و ټاکل سی. دا وړاندیزد مخالفت سبب و ګرځید او رد سو. امان الله او د هغه پلویان حدس واهه، چه که چیری ځینی نور وړاندیزونه د نوی موضوعاتو په باب وړاندی کړی، نو به په جرګه کی د همداسی مخالفت سره مخامخ سی. نوتصمیم و نیول سو چه نور «پرابلمونه» په درباری - نیمه رسمی، د حکومت په وفادار «ارګان» - کښی وړاندی کړی. دوی هیله درلودل، چه چه د عالیرتبه مأمورینو، د مځکو خاوندان او سوداګری «بورژوازی» به د دوی ضمانت وکړی.

د ۱۹۲۸م کال د «اکتوبر» د میاشت په پیل کی،«درباری» ته یو زیات شمیر د «ریفورمونو» نوی طرحی وړاندی سوی وی: د نجونو او هلکانو یو ځای تعلیم تر ۱۱ کلنی عمر پوری. د تحصیل د پاره د ځوان افغانان او ځوانی افغانانی، خارج ته استول، د کثیرالازدواج منع، د چادری لیری کول د مثال په توګه. د«درباری» برخوال دا ټول وړاندیزونه منلی وه او د داسی طرحی سوی موضوعاتو څخه هم ملاتړ ښودلی وه، که څه هم ډیری یی ورځینی خوشحاله نه وه.

پدی لویه جرګه کی د هیواد د اقتصاد د ودی مسایل، لویه برخه جوړه کړی وه. امان الله د جرګی برخوالو ته د امضأ سوی امتیاز یا «کنسسیون» قراردادونه، چه د لویدیز شرکتونو سره صورت موندلی وه، معلومات وړاندی کړ. ده ټینګار کاوه، چه ده ته خارجی قرضی د انتخاب وړ نه وه، دا ځکه چه د هیواد استقلال ته صدمه رسولای سول. ده وړاندیز وکړ، چه دولتی بانک دی جوړ سی، تر څو د دولت نقش د مالی فعالیتونو په برخه کی وده وکړی. مګر دا هدف سر ته و نه رسید، ځکه وروسته تر هغه، ډیر ژر ښورښ و اغتشاش صورت و موند. پدی علت چه خوصی پانګه ورسره مخالفت وکړ.

دا لویه جرګه، د حکومت نظامی سیاست ته ستر اهمیت ورکړی وو. پاچا او د هغه پلویان د اردو د تجدد جوړښت یی د اروپایی نمونی په مطابقت، پلان کړی وه. پر همدی بنسټ، جرګی ته وړاندی سوی طرح چه،



افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

عمومي مکلفیت دی تطبیق سی، او د مکلفیت دوره د دو کلونو څخه د درو کلونو ته پورته کړای سی. او همدا رنګه، عوض او د مکلفیت خریداری منع سول. حکومت پیسو ته د وسلو او مهماتو د رانیولو اړتیا درلوده. نوغوښتنه یی و کړه، چه یو فوق العاده محصول دی پر هر سړی سر باندی ۵ افغانی او د دولت د هر مأمور څخه دی د یوی میاشتی معاش واخستل سی.

دا وه تر ټولو مهم اصلاحات او یا « ریفرمونه» چه حکومت د پاچا د خارج سفر څخه د راستنیدو وروسته پلان کړی وه چه د جرګی او هم د «درباری» برخوالو ته وړاندی کړی وه. امان الله د خپل حاکمیت په دوره کی غونډ ۶۴ اصلاحات او یا «ریفورمونه» وړاندی کړی وه.

د جرګی پر غونډی باندی تر یوی کچی پوری متشنجه فضا مسلط وه، مګر تر یوی معینی درجی پوری د هیواد، عمومي سیاسی – ټولنیز وضعیت یی منعکس کاوه. نمایندګان دا امکان نه درلودل، چه اداری دستګاه تر نیوکو لاندی ونیسی. خو دوی ته اجازه ورکړه سوی وه چه، شکایات فقط د دولتی شورا ریس، شیر احمد خان ته وسپاری، ده بیا په خپله تصمیم نیول چه د یادونی وړ ده او که نه. سربیره پر دی، بحثونه بیا ډیر شدید پر مخ تلل. د حکومت پر ضد د فساد او رشوت تورونه لګول کیدل. دنمونی په توګه، غلام محی الدین خان ارتی، د کابل نماینده، چه ۳۰۰۰۰۰ (دری سوه زره) افغانی یی د خارجی وسلو د رانیولو د پاره اعانه وکړی وه، پاچا ته مخ واړاوه او وی ویل:« تر څو چه وراسته وزیران محکمی ته را کش او غرغره نسی، پدی هیواد کښی د «ریفرم» په باب فکر کول ممکنه نه ده.» (۷)

په هغو ورځو کښی، د جرګی نمایندګان په مینځ کښی، بیله دی چه کوم اقدام صورت و مومی، برتانوی «اجنټان»، د ملکی بی چادری عکسونه خپاره کړل. دا عکسونه، د هغی د اقامت په وخت کښی چه د اروپا په سفر بخت وه، اخستل سوی وه. پرعکسونو باندی داسی لیکنی ځای پر ځای سوی وی، چه پر ملکی باندی د غیر اخلاقی اعمالو اتهام لګول سوی وه. دا ټول دی نتیجی ته ورسیدل چه د جرګی، ناستی د «سپتمبر» په دویمه نیټه ختمیدو ته و رسید، که څه هم ډیرو مسایلو ته باید ځواب ور کړ سوی وای.

د جرګی غړی، په تیره بیا د شرقی ولایت د قومونو نمایندګان، خپلو کورونو ته وګرځیدل او قوی شعارونه یی د «ریفرم» او یا اصلاحاتو پر ضد ورکول، چه اصلاً باید په لویه جرګه کښی د هغو د پاره یی رأیی وکړی وای. دو روحانی عالی مقامونه – د شور بازار مجددی او قاضی عبدالرحمن- چه د کابل څخه د جرګی د ختمیدو د مخه وتلی وه، هڅی وکړی چه یو قیام او یا اغتشاش ته په جنوب ولایت کښی سازمان ورکړی. مګر حکومت ددوی مخنیوی وکړاو دواړه روحانیان یی بندیان او محکمی ته وسپارل.

ډیر ژر وروسته تر هغی د حکومت ضد توطیی د روحانیونو تر رهبری په کابل ، کوهستان او خوست کی کشف سوه. تر یوی معینی اندازی پوری، یو تعداد اشخاص د امان الله د نږدی ماحول څخه د ده د «ریفرم» سیاست پر ضد و دریدل. پاچا د «اپوزیسیون» یا د مخالفی ډلی څخه د دولت په عالی ترین ترکیب کی ویره درلوده، نو د حکومت په جوړښت کی د بدلون را وستلو نیت تر لاس لاندی و نیول. خارجه وزیر محمود بیک طرزی، د ځوان افغانانو د غورځنګ «پلار» چه د یوه سلسله ریفرمونو سره موافق نه وو، استعفا وکړه. د دفاع وزیر محمد ولی خان، د پاچا د مبارزی یو بل دوست، عبدالهادی داوی، د ځوان افغانانو طاقت، عبدالرحمن لودین (**Lodi**)، چه په لویه جرګه کی د امان الله پر حکومت باندی نیوکی کړی وی او نور کسان، چه د ریفرم د پاره ولاړ وه، د وظایفو څخه لیری سول. د دوی پر ځای داسی اشخاص وټاکل سول، چه د پا چا په اعتمادی حلقه کی لار موندلی وه، مګر هیڅ کوم معین سیاسی تمرکز او سمتګیری نه درلودل. یو تعداد بی باکانه، د «ریفرم» پر ضد دریدل. وروسته تر دی «پاک کاری» څخه، د امان الله ماحول او شاوخواءپه سیاسی لحاظ یوه رنګینه بڼه ځانته ونیوله او ښکاره، ښی لاس تمایلات برملا سول.

په هره پیمانه چه امان الله، افراطی یا «رادیکال» ټولنیز او سیاسی تغییراتو ته تمایل ښودل، په هغه کچه به مقاومت دده د سیاست په ضد ښودل کیده. پاچا په ډیر تردد او مأیوسی، هڅه کول چه یوه سیاسی پایه د ریفرم د تطبیق د پاره جوړ کړی. په همدی هدف، د ۱۹۲۸م کال د منی فصل په میاشتو کی، هڅی وکړی چه د ځوان افغانانو څخه - «د استقلال او تجدد» ګوند، سیاسی صحنی ته را وباسی، مګر دا هم بریالیتوب را نه وړه. د ځوان افغانانو، زوړ «ګارد» ، چه د امیر حبیب الله خان (سراج:ژباړونکی) په دوره کی «اپوزیسونی» موقف درلودل، د پاچا د افراطیت یا «رادیکالیزم» څخه ویره درلودله، پدی سبب دوی معتدله موضعګیری ځانته غوره کړل. بنا پر دی، امان الله داسی طریقی اوداری طزالعمل و ټاکل (بیله دی څخه چه د اقتدار او قدرت څخه کار واخلی. پاچا غوښتل، چه ټولو پوښتنو ته یواځی ځواب ورکړی او تصمیمونه په خپله ونیسی.)، چه هیڅ بل امکان ته اجازه نه ورکاوه،


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

چه د ریفرم د پاره د یوی قوی ډلی د جوړیدو زمینه برابر کړای سی، تر څو چه امان الله ته په داسی سختو شرایطو کی، ضروری مرستندوی واقع سوی وای.

دا بحرانی وضعیت، په هیواد کښی، لا ډیر پخوا تر دی، د حوادثو د واقع کیدو په نتیجه کښی را مینځته سوی وه. د ځوان افغانانو د علنی مقاومت د ریفرم پر ضد پیل کیدل، په خپله د دولت په عمومی سیاست کی دعمومی بحران د موجودیت ښکارندوی دی.

په جرګه کی د حکومت نږدی ټول وړاندیزونه تأیید سوی وه، مګر دا پدی معنی نه وه، چه هلته د ټولنیز قشرونو نمایندګان، په یوه آواز د داخلی سیاست کړن لاره منلی وه. وروستی واقعات، په ډاګه شاهدی ورکوی. دا چه ټول نمایندګان د ریفرم څخه ملاتړ وه، چه ددوی د ډیرو علاقمندیو پر ضد وه، کیدای سی چه له دی څخه روښانه سی، چه د رژیم ضد افراد لا تر اوسه پوری یو ثابت حالت ته نه وه رسیدلی، تر څو د یو واحد سیاسی ډلی په توګه، د ریفرماتورانو د ځای یا «لاګر» پر خلاف په ښکاره ډول و دریږی. مګر نباید د جرګی او د «درباری» مصوبی، د یوه مستقیم او یا یو د دی دلایلو په جمله کی، د ۱۹۲۸م کال د منی د اغتشاش د سبب په توګه په نظر کی و نیول سی.
دا یوائی باید یو د هغو عمومی سیاسی ټولنیز بحران د «فکتور» په حیث و شمیرل سی، کوم چه د طبقاتی تضادونو د ودی او تشدید په نتیجه کښی، را څرګند سوی و ګڼل سی. سربیره پر ټولو، ډیر اصلاحات یا «ریفرمونه» د اعلامیی ماهیت او خصوصیت درلودل. ځکه چه په هیواد کی د هغوی د فوری شرایط نه وه آماده سوی. د مهموطبقاتو د قوتونو اړیکی څنګه وی، او د علنی عملونو یا «اکسیونونه» د حکومت پر خلاف څنګه وی؟

د امان الله د حکومت اقتصادی سیاست، په عینی توګه، د لمړنی پانګی تراکم سرعت ګړندی کړ او د اقتصاد نفوذ او د هغه وده چه د مارکیت د شتمنو پانګوال سره اړیکی درلودلی، لکه د سوداګری او محتکره «بورژوازی»، د یاد وړ ده .

دا نتیجه باید تر لاسه سوی وای، چه مستقیماً هغه طبقات چه د دی «ریفرم» سره علاقه در لودل، باید د دولت د «ریفرم» حامیان ګرځیدلی وای. مګر د ډیرو دلایلو پر بنا دا حالت صدق نه کاوه. د شتمنواو دارا طبقات د جوړیدو په حال کی وه. د ګذار مرحله کی، د نوی اقتصادی شکلونو ته، د کالیو مالکان به نسوای کولای، چه د یوی شپی په تیریدو سره، خپل د «فیودالی» تفکر طریقی ته بدلون ورکړی. په همدی دلیل دوی د «ریفرم» د دفاع د پاره و نه دریدل، کوم چه «د فیودالی ضد» ماهیت درلودل. لا پیچلی وضعیت د سوداګری او د «محتکری بورژوازی» په برخه کی لیدل کیده. ددی د پاره چه مالی بنسټ ، خریدارانو ته قوت ورکړای سی او د غیر افغانی پانګی تضعیف کړای سی، د امان الله حکومت هڅه وکړه، چه د ملی سوداګری پانګی څخه، د سهامی (شرکت) د جوړیدو وخوا ته تشویق کړی.

مګر سوداګر په ډیر بی رغبتی او د علاقی څخه لیری ددی موضوع سره چلند کاوه، ځکه چه د شرکت – سیاست، د دولت هیلی ته خیانت کاوه، چه د سوداګری فعالیت په هیواد کی تر قاعدی لاندی را ولی، او سربیره پر دی دولت د شخصی پانګی د غیر تعرض یا غیرتمسک، تضمین نه کاوه. بیله دلیل څخه سوداګر ویره نه درلودل، همدا علت وو چه خپل خصوصی تشبث به ضعیف ساتل. علاوه پر دی، حکومت د یوه دولتی بانک غوښتنه درلوده، سوداګرو ته د خصوصی بانک د جوړولو اجازه نه ورکاوه. مینځنی او واړه سوداګر هم د حکومت د اقتصادی – سیاست څخه حمایت نه کاوه، داځکه چه دوی د انحصاری سوداګرو د سیالی او رقابت څخه، په داخلی او خارجی تجارت او سوداګری کی ویره درلودل.

د بورژوازی د قشرونو د غیر قاطعیت، د حکومت د پاره په داسی انتقادی پړاوکی، د دوی د دوومخی او د دوو «کرکترونو» د درلودلو ښکارندوی وه. د سوداګر په توګه د «ریفرم» علاقمند وه، مګر د مځکی د خاوند په توګه، «نیمه فیودالی» ته تمایل ښودل، د ځوان افغانانو بدلونونو سره، په بد ګمانی او بی اعتمادی چلند درلودل، په پای کی به یی ردول. دا ټول د نوی طبقاتو د قوت د ضعف ښکارندوی وو، چه په دوی کښی د یو ضروری سیاسی اتحاد کموالی لیدل کیده.

د دریمی برخی پای
دوام لری


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه تینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ